

# په مجارستان کې کورنۍ سره بیا یوځای کیدل

## څوک کولای شي د کورنۍ غړی راوغواړي ؟

څوک چه په مجارستان کې پناهنده وي يعني دايمي قبولي ولري يا موقتي يعني درې کلن اسناد ولري.

## په دې چلند کې مجارستان کې د کورنۍ کوم غړي سره یوځای کیدلای شي ؟

څوک چه د پناهنده په توګه قبول شوی وي لاندېندي کورنۍ غړي راغوښتلی شي :

– میرمن یا خاوند
– د کمکي عمر کوچنی ( چه د اتلس کالو نه يې عمر ټيټ وي) هغه کوچنی هم راوستلای شي چه منل شوی زوی یا لور يي وي .
– ۱۸ کالو نه ټيټ پناهنده خپل مور او یا پلار
– د ۱۸ کالو نه لوړ عمر والا کس هم کولای شي چه مور او یا پلار راوغواړي که چيرې مالي، ټولنيز یا احساساتي مرستې ته اړتيا ولري.
– که چيرې پناهنده نا روغه وي ، جدي ناروغي سره مخامخ وي ، خپل ځان نشي ساتلی، نو خپل مشر زوی یا لور هم راغوښتلي شي.
– که چيرې پناهنده نا روغه وي ، جدي ناروغي سره مخامخ وي ، خپل ځان نشي ساتلی، نو خپل مشر ورور یا خور هم راغوښتلي شي
– که چيرې پناهنده نا روغه وي ، جدي ناروغي سره مخامخ وي ، خپل ځان نشي ساتلی، نو خپل لمسی یا لمسې هم راغوښتلې شي.

څوک چه موقتي يعنې درې کلن قبول شوي وي هغه کولای شي لاندیني غړي راوغواړي :

– . میرمن یا خاوند
– د کمکي عمر کوچنی ( چه د اتلس کالو نه يې عمر ټيټ وي) هغه کوچنی هم راوستلای شي چه منل شوی زوی یا لور يي وي .

د کورنۍ غړي په هغه صورت کې راغوښتل کيږي کله چه پناهنده د مجارستان د راتګ نه مخکې هغو غړو سره کورنۍ اړيکي ولري. که چيرې مجارستان ته د راتګ نه وروسته پناهنده واده وکړ او یا يې کوچنی وروسته رالوي کړ چې خپل يي نه وي ، هغه کسان مجارستان ته د راتګ مستحق ندي.

## کله کولای شي د پناهنده د کورنۍ غړي سره یوځای شي ؟

کله چه پناه غوښونکی قبول شي سمدستي کولای شي چه د کورنۍ غړی راوغواړي . که چيرې پناه غوښتونکی د مثبت پريکړې اعلان نه وروسته يعني قبولي نه وروسته په ۳ مياشتو کې د ننه خپل غوښتنليک وړاندې کړي ، په هغه صورت کې بايد د راغوتونکي کس سره خپلې کورنۍ اړيکي ثابتې کړي او که د ناروغی په چلند کې د کورنۍ غړی راغواړي نو د هغې لپاره اړين اسناد بايد ولري. څوک چه موقتي اسناد ولري يعنې درې کلنه قبولي ولري هغوی لپاره دا ګزينه وجود نلري. که د پناهنده يعنې دايمي قبولي درلودونکې کورنۍ په درې مياشتو کې د ننه د یوځای کیدلو غوښتنليک وړاندې نکړي نو بيا هغوی لپاره هم د موقتي اسناد اخيستلو شخص شرايط عملي کيږي ( تشريح يې لاندې ولولی)

### د کورنۍ د غړي د راغوښتلو چلند څرنګه پیل کیږي ؟

قبول شوی شخص کولای شي چه د کورنۍ غړو سره د بیا یو ځای کیدلو چلند پیل کړي . د کورنۍ هغه غړي چه غواړي مجارستان ته راشي هغوی باید د خپل هستوګنځي سره نیږدې مجار کونسل ادارې ته ولاړ شي. په هغې هیواد کې باید دعوت شوی کس په قانوني توګه ژوند وکړي د کوم هیواد مجارکونسلګری ته چې غوښتنلیک وړاندې کوي، که چیرې په هغې هیواد کې قانوني ژوند امکانات ونلري باید مخکې له مخکې کونسلګری ته اطلاع ورکړي ، مګر دا غوښتنلیکونو د کونسلګري له خوا نه نه څیړل کیږي، پریکړه کونسلګري نه کوي.کونسلګري یوائې غوښتنلیک اخلي او بیا هغه بوداپست ته د کډوالو چارو ادارې ته رالیږي. د کډوالو چارو ادارې لخوا یو مامور ټاکل کیږی چه هغه د بیا یو ځاي کیدلو په اړه پریکړه کوي. که چیري ضروري وي نو دعوت شوي کس سره مره که هم کوي.

### د غوښتنلیک پر مهال باید متقاضي څرنګه اسناد راټول کړي ؟

د پناهنده کس کورنۍ باید کونسلګري ته لاندیني اسناد ورښکاره کړي او وړاندې کړي .

- پاسپورټ( کله چه غوښتنلیک وړاندې کوي باید په پاسپورټ کې لږ تر لږه شپږ میاشتې وخت ولري )
- د تذکرې یو انځور ( د کورنۍ هر غړی باید یو انځور ولري)
- ۴۰ یورو (هر غړی باید سرې سر دومره پیسې ادا کړي)
- خانه پوري شوي فورمه ( د کډوالو چارو ادارې د ویب پاڼې څخه)
- د کورنۍ د اړیکو ثابتولو تضدیق ( د زیږیدنې او د نکاح )
- نور اسناد چه مرسته کوونکي اسناد وي ( د ناروغی تضدیق)

د کورنۍ بیا یو ځای کیدلو په چلند کې د کډوالو چارو اداره ټول مکتوبونه په مجاري او انګلیسي ژبې کې د منلو وړ ګڼي. نو تاسې ته دا لارښوونه کوو چه د اصل اسناد ورکولو پر مهال خپل مکتوبونه په رسمي توګه مجاري یا انګلیسي ژبې ته ترجمه کړی او بیا یې ادارې ته وړاندی کړی. هر مکتوب چه تاسې وړاندې کړې وي هغه د کډوالو چارو اداره یو اسناد شناس ته لیږدوي. بیا دا کارپوه د مکتوبونو په هکله پریکړه کوي چه ایا اصل دي که جعلي.

### څرنګه کولای شی خپلې کورنۍ اړیکې په ثبوت ورسوی؟

د کورنۍ اړیکي باید په هر صورت کې په ثبوت ورسیږي. په لومړي ګام کې دا باید په اصلي سندونو ثابت شي لکه د زیږیدنې تضدیق یا نکاح خط، او یا هغه سند چه کوچنۍ نوموړي ځان سره رالوي کړی وي یعني منل شوی کوچنۍ وي.

کورنۍ اړیکې د ډي ان آې له لورې هم په ثبوت رسول کیږي، د دې معاینې پیسې باید د کورنۍ غړي ادا کړي. د ډي ان آې معاینه باید د کډوالو چارو ادارې څخه وغوښتل شي . په دې صورت کې باید د کورنۍ غړي د مجارستان په کونسلګری کې د ډي ان آې ټیسټ ورکړي ، دا معاینه کونسلګري بیا بوداپست ته رالیږي او دلته بیا تشخیص کیږي

### په مجارستان کې قبول شوي مهاجر باید کوم شرایط پوره کړي ؟

هغه قبول شوي کسان چه کورنۍ یې په درې میاشتو کې دننه د یوځای کیدلو غوښتنلیک وړاندې نکړي، بیا باید لاندیني شرایط پوره کړي :

- د اوسیدلو تضدیق: د کور د کراي کولو قرارداد، بل چا سره د اوسیدلو سند چه د کور څښتن ورکړې وي، او د کور د کوالې یوه فوتو کاپي باید ولري، په دې شان کولای شي خپله هستوګنه ثابته کړي. ګټوره به وي که چیرې دعوت شوي کسان هم په قرارداد کې لیکل شوي وي. قانون له نظره باید په کور کې یو کس ته شپږ متر مربع ځای ورسیږي، په دې کې تشناب او پخلنځی نه حسابیږي.
- د ځان ساتلو یعني کار تضدیق : باید متقاضي شخص د کار قرارداد ولري، او د کار شپږ میاشتو ثابقه ولري، دا اسناد خپل د کار څښتن څخه غوښتل کیږي. که څوک خپل کاروبار ولري، هغه باید د خپل حسابدار څخه دا اسناد وغواړي. دې نه پرته متقاضي څخه د بانک حساب او د مالیې دفتر تضدیق هم غوښتلی شي، دا مهمه نه ده چه په بانک کې یو ځای ډیرې پیسې واچول شي مګر دوامداره درآمد ترلاسه کول باید په ثبوت ورسول شي.
- د روغتیایي بیمه: دعوت شوي کسانو لپاره باید هر اړخیزه بیمه وجود ولري. دا بیمه هر څوک ترلای شي، مهمه دا ده چه دعوت شوي کسان بیمه ولري.

## نور کوم شرایط باید تضدیق شي کله چه دایمي قبول شوي کس خپل مور،پلار یا ورور سره په مجارستان کې بیا یوځای کیدل غواړي ؟

دایمي قبول شوي کس هغه مهال خپل مور او پلار راغوښتلې شي چه هغوی نور خپل ځان نشي ساتلی، او په مجارستان کې دایمي قبول شوی کس ورسره له دې ځایه مالي مرسته کوي. قبول شوی کس باید ثابته کړي چې خپل مور او پلار سره داسې اړیکې لري چې یو بل ته هم مالي، هم ټولنیز او هم احساساتي احتیاج لري . د دې اړیکو لپاره بهترین ثبوت د پیسو د لیږلو رسید کیدلای شي که چیرې دا پیسې مور او پلار ته لیږدول شوي ، که د کوم ملګري په منځګړتوب ترسره شي نو هغه ګټه نلري. د کډوالو چارو اداره باید د قضیې هر اړخ ته وګوري، یعنې که یو قبول شخص د پیسو له نظره خپل مور او پلار سره مرسته نشي کولای بیا هم د بیا یوځای کیدلو امکانات شته. مګر د متقاضي او راغوښتونکو ترمنځه باید قوي احساساتي اړیکي ووسیږي.

یو دایم قبول شوی کس په هغه مهال خپل ورور یا خور راغوښتلې شي که چیره هغه دومره ناروغه وي چه د خپل ځان ساتنه نشي کولای، یعني جدي ناروغي ستونزې ولري. د ناروغی له امله خپل هغه ورور یا خور ته اړتیا لري چه په مجارستان کې پناهنده دی. ناروغي مشکلات د ډاکټر د تشخیص یا د روغتون د تشخیص پر بنسټ ثابتیږي. که چیرې دعوت شوي کس ته په خپل هیواد کې د درمل لاربچارې نه وي جوړې ، نه دغه شان تضدیق هم باید د کډوالو چارو ادارې ته وړاندې شي.

## د کورنی یوځای کیدلو چلند څومره وخت نیسي ؟

د کورنی یو ځاي کیدلو چلند اوږدوالی ډیرو څیزونو پورې اړه لري ، او د شخص ځانګړي حالاتو پورې هم اړه لري. لومړي ځل لپاره دا چلند د شپږو میاشتو نه تر یوه کاله پورې وخت نیسي، کله د دې نه هم اوږد وخت ونیسي.

## که چیرې ستاسې غوښتنلیک رد شي نو څه باید وکړی؟

کله چه تاسې ته منفي ځواب لاسته راشي ، هغې ورځې نه نیولې په اتو ورځو کې دننه باید تاسې د کډوالو چارو ادارې ته غوښتنلیک وړاندې کړی. په دوهمې لړی کې هم د کډوالو چارو اداره ستاسې غوښتنلیک څیړي. که دوهم ځل بیا ستاسې غوښتنلیک رد شو نو بیا په ۳۰ ورځو کې دننه تاسې کولای شی چه محکمې ته مراجعه وکړی. په دې صورت کې محکمه یا د کډوالو چارو د ادارې پریکړې سره موافقت کوي یا هغوی ته بیا د قضیې د څیړلو امر کوي لپاره د دې چه نوې پریکړه وکړي.

## که چیرې ستاسې غوښتنلیک ته مثبت ځواب درکړي، نو بیا باید تاسې څه وکړی؟

که چیرې د کډوالو چارو اداره مثبته پریکړه وکړي نو بیا تاسې ته اطلاع درکوي او د مجارستان کونسلګری ستاسې د کورنی غړو ته هم اطلاع ورکوي کوم هیواد کې چه د کورنی غړو خپل غوښتنلیک وړاندې کړی وي . په دې صورت کې کونسلګری دعوت شوي کس یا کسانو ته (ډ ویزه) ورکوي چه هغه د یو ځل سفر لپاره صادریږي. په همدې ویزې د کورنی غړي مجارستان ته سفر کولای شي ، او کله چې دلته راغلل نو په دیرش ورځو کې دننه خپله موقتي اقامه لاسته راوړلی شي . بوداپست (Szegedi út 35-37) شمیرې لاندې د کورنیو چارو اداره موجوده ده. هلته باید د هستوګنځي خبر ادارې ته ورکړي او په فورمې کې باید خپل ادرس ولیکي، د کرایي کور څښتن باید په دې فورمې کې لاسلیک وکړي.


د مجارستان هلسینکي کمیټه

Hungarian Helsinki Committee

1074 Budapest, Dohány utca 20. II/9.
Tel/fax: + 36 1 321 4323, 321 4141, 321 4327
helsinki@helsinki.hu
www.helsinki.hu



UUSC

Supported by a grant from the Unitarian Universalist Service Committee